بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

# عمومي معلومات

## پېژندنه

څرنګه چې په نړۍ کې معمول دی اردو ګاڼي د هیواد د دفاع، د ارضي تمامیت، د ملي نوامیسو، ملي حاکمیت، ازادی او د هیواد د معنوي ارزښتونو د ساتنې واقعي مسؤلیت او رسالت پر غاړه لري.

د افغانستان اسلامي امارت ملي دفاع وزارت خپله ملي او تاریخي دنده ګڼي چې د هیواد د جیوپولیټیکي او جیوستراتیژیکي وضعیت، د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ لید لوري او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د افغانستان اسلامي امارت د اسلامی اردو جوړښت او وده داسې تنظیم کړي چې په اوږده مهال کې د افغانستان دفاعي ایجاباتو او اړتیاوو ته ځواب ویونکی او د هیواد د دفاع د لوی رسالت په سرته رسولو قادر وي.

ملي دفاع وزارت اوس مهال او په را تلونکي کې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ته د ورپیښو او احتمالي ګواښونو پر وړاندې د مبارزې په هکله کلک او پریکنده ګامونه پورته کوي او د افغانستان اسلامي امارت د تګلارو په رڼا کې له ګاونډیو هیوادونو سره به د ښه ګاونډیتوب، د نه لاسوهنې او متقابل درناوي په اصولو ولاړې اړیکې ولري.

## تشکیلات او جوړښت

څرنګه چې اړینه ده د ملي دفاع وزارت تشکیل د ملي دفاع وزارت او ستردرستیز د قرارګاوو سربیره، د هیواد په (۷) زونونو کې د مرکزي او ساحوي قول اردوګانو، هوائي ځواک، حمایوي او تأميناتي قوماندانیتونو په جوړښت تنظیم او تعبیه شوي دي.

د افغانستان اسلامي اردو د توازن له مخې ملي، د عقیدې له مخې اسلامي او تخصص له مخې مسلکي او متعهده ده، چې لیکې یې له ژمنو مسلکي او د اسلامي ارزښتونو د منلو په روحیه سمبال کسانو څخه جوړې دي، د افغانستان د مجاهد ولس پر وړاندې د مسؤولیت احساس د اهلیت په اصولو او د خپلې عقیدې او وجدان پر بنسټ ورسپارل شوې دندې ترسره کوي.

## اصلي موخې او مسؤولیتونه

دفاع او امنیت د هر هیواد لپاره حیاتي او اساسي ارزښت ګڼل کیږي، نو له همدې کبله اسلامي اردو د هیواد د دفاع بنسټ دی، د افغانستان ملي ځواک د ثبات تأمینوونکی او د خلکو استازی ګڼل کیږي، د ټولنې د ټولو برخو تر منځ یووالی او د مجاهد ولس د عزم استازولي کوي.

د افغانستان اسلامي اردو د نورو امنيتي بنسټونو په مرسته د امنيت د ټينګښت ترڅنګ په ټولو برخو کې د پر مختګ د ښه شرايطو د رامنځته کولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت څخه ملاتړ او له پلان شويو جرمونو سره مبارزه خپله دنده ګڼي.

## کړني

په هيواد کې داسلامي امارت له بريا او واکمنۍ څخه وروسته دملي دفاع وزارت کړنې په بيلا بيلو برخو کې د کميسيونونو جوړول، په ټولو څانګو کې د اداري او پرسونل برخي فعالول او د لوژستيکي، تأميناتي، تدارکاتي، حمايوي، بودجه او مالي، خدماتي، روغتيايي، ودانيزې، استخباراتي، تکنالوژيکي، عقيدتي کلتوري، عامه چارې، ښوونې او روزنې او بهرنۍ چارو اړيکې په بخشونو کې لاسته راوړنې سره مل دي.

## په ۱۴۴۳هـ-ق کال کې د ملي دفاع وزارت لاسته راوړنې

د فتحې په پيل کې داسلامي امارت مجاهدين په داسې حال کې دفاع وزارت ته ننوتل چې هر څه د ګډوډۍ په حال کې وو، ډيرى سيستمونه چې د بهرنيانو له خوا تمويل او کنترول کيدل، څه ناڅه او يا هم په بشپړ ډول ويجاړ شوي وو، د افغانستان د دښمنانو مخکينيو وړاندوينو بر خلاف، ۱۴۴۳ هـ.ق کال ملي دفاع وزارت ته يو د لاسته راوړنو څخه ډک کال وو، ملي دفاع وزارت په داسې حال کې چې د اسلامي اردو په جوړولو او تمويل کې هيڅ ډول بهرنۍ مرسته له ځان سره نه درلوده، او د افغانستان د ولس دښمنانو خپلې زياتې هڅې په دې متمرکزې کړې وې چې د مجاهدينو او دفاعي ځواکونو روحيه ضعيفه او دوى ته ننګونې مخکې کړي په خپل کار پيل وکړ چې له نيکه مرغه تر اوس مهاله ورسپارل شوې دندې په ښه توګه سر ته رسولې دي.

تير کال دفاعي ځواکونو دا ثابته کړه چې په خپلواکه توګه دا توان لري چې د افغانستان دځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع او د اسلامي امارت د واکمنۍ څخه ساتنه او پراختيا په مستقلانه توګه تر سره کړي.

د ملي دفاع وزارت کړنې د افغانستان اسلامي امارت د تګلارو پربنسټ، د امنيت ټينګول، د سرحداتو ساتل او د دفاعي وړتياوو ځواکمنتيا، د اوسنيو او راتلونکو امنيتي ننګونو پر وړاندې متمرکزې دي، چې په لاندې ډول بيانيږي.

### ۱- دهوائي ځواک په هکله

د هوايي ځواکونو په څانګړي ډول د تخنيکي او مسلکي څانګو فعالول، چې تر اوسه پورې (۶۰) نه ډيرې الوتکې ترميم او الوتنې ته چمتو شوي دي. چې تر اوسه پورې په بيلا بيلو موخو کې ( اکمالاتي، بيړنۍ مرستې، د پرسونلو ليږدول) (۱۳۸۰) الوتنې تر سره شوي چې په پايله کې (۹۵۳۶) کسان او(۸۳۲۲۲)کيلو وزن مختلفو سيموته انتقال شوي دي.

د ملي دفاع وزارت د مسوولینو د هڅو پر اساس تر اوس مهاله د ( ۴۰ )کسانو په شاوخوا کې د هوايي ځواکونو پیلوټان، انجینران او مسلکي کارکونکي د کور د ننه او له هیواد نه بهر څخه بیرته خپلو دندو ته حاضر شوي دي.

## ۲-د سرحدونو په هکله

افغانستان د (۲۰) ولایتونو او (۹۰) ولسوالیو له لارې له (۶) هیوادونو سره سرحد او د ډیورنډ فرضي کرښې ته نښتی دی . چې په ټوله کې (۵۶۹۲) کیلو متره سرحد او ډیورنډ فرضي کرښه لري.

امنیتي پوښښ ته په کتو سره د سرحدي لواګانو (۵۰) کنډکونه په (۳۷) کمپونو ، (۱۰۸) بیزونو او (۴۵۰) امنیتي پوستو کې د پیښو د مخنیوي او غبرګون په موخه په عصري وسایلو سمبال او ځای پر ځای شوي دي.

همدارنګه تر اوسه په بیلا بیلو سرحدي نقطو کې د (۱۳۰۰) کیلو مترو په اوږدوالي سره د (۲۰) پوځي سړکونو د جوړولو چارې بشپړې شوي او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

## ۳- د کړنلارو د جوړولو په هکله

په اسلامي اردو کې د مجاهدینو د شمولیت کړنلاره، د مجاهدینو د رتبو د تثبیت کړنلاره، د صفوفو څخه د کم عمره کسانو (لغړزنو) د ایستلو کړنلاره، د موټرانو او جنراتورونو د اړتیاوړ تیلو د تثبیت کړنلاره جوړول او پلي کول.

## ۴- د مالي او بودجې په هکله

د آفمیس (د افغانستان د مالي اطلاعاتو مدیریت ) او بی پټ ( د بودجې د ترتیب او لګښتونو د تعقیبولو ) سیستمونو بیرته فعالول او ترې ګټه اخیستل، د ۱۴۰۰ کال د مصارفو قطعیه راپور بشپړ کول او مالیې محترم وزارت ته یې استول، د ملي دفاع وزارت د مجاهدینو او نورو کارمندانو د معاشاتو په شفاف ډول ویشل.

## ۵- د چارو د ښه سمبالولو په هکله

د ملي دفاع وزارت تشکیلاتو بیا کتنه او د مشرتابه عالي مقام څخه یې په عالي رتبه بستوونکې د (۱۱۳) کسانو د ګمارلو وړاندیز او د (۸۷) کسانو دمنظورۍ حکم اخیستل شوی چې دې سره سم دملي دفاع وزارت او ستردرستیز د معینیتونو او ریاستونو، د قول ار دوګانو او سرحدي لوا ګانو د قوماندانو ګمارل، د مجاهدینو د ثبتولو لپاره په هره قول اردو کې د ځانګړي تګلارې پراساس دکمیسیونونو ټاکل، د مرکزي او ساحوي قول اردوګانو په بیلابیلو څانګو کې دظرفیت لوړولو لپاره د سیمینارونو تدویرول.

## ۶- د ښوونې او روزنې په هکله

د صحي قوماندانۍ (۱۶۰) داکتران د تخصص د اکمال د آزموینې لپاره عامې روغتیا محترم وزارت ته وروپېژندل، د مجاهدینو لپاره د پوځي او کمپیوټر د زده کړو کورسونو دایرول، د ملي دفاع وزارت اړوند تعلیمي او تحصیلي بنسټونه فعالیدل، (۱۲۵۷) کسه محصلین ملي پوځي اکادمۍ ته، (۸۴) کسه محصلین د ځوانو افسرانو اکاډمۍ ته او(۱۲۰) کسه زده کوونکي حربي ښوونځي ته جذبول، ټاکل شوې ده چې د هیواد د ښوونځیو د لسم او یوولسم ټولګیو فارغانو ځخه (۴۰۰) ځوانانو ته په حربي ښوونځي کې د جذب زمینه برابره کړو.

## ۷- د بهرنیو مرستو په هکله

د هند، روسیه، چین، قطر، ایران هیوادونو او د نړۍ د صحي سازمان څخه د (۳۵۵) قلمه درمل، (۱۱۲) قلمه طبي توکي،(۵۰۰) زره دوزه دکرونا واکسین او (۵۰۰) ټُنه خوراکي توکي مرسته شوي، او په ترکیه او هند هیوادونو کې د افغان پوځي محصلینو د بیرته راتګ او نورو محصلینو ته د لازمې آسانتیاوو برابرول.

## ۸- د عملیاتو په هکله

سوله ایزې فضا رامنځته کولو په موخه د کورنیو چارو محترم وزارت او د استخباراتو محترم لوی ریاست سره په ګډه په ټول هیواد کې په پوره همغږۍ ، د عملیاتو پلانګذاري او سرته رسول، د پوځي ملي سوق او اداره مرکز له لارې په دوامداره توګه راپور اخیستل، د تر سره شوو عملیاتو په پایله کې (۱۴۸) موټرونه، (۹۳) موټر سایکلونه، (۲۸۵۹)میله سپکه وسله،(۱۷۰) میله درنه وسله، (۷۱۱)حلقه ماینونه، (۲۸۹۱)کیلو مخدره توکي، (۱۹۲) کیلو چاودیدونکي توکي، (۹۱)مخابرې، (۱۷۳) دوربینونه، (۶) پایې ثریا تیلیفونونه د ځواکونو لاسته ورغلي.

## ۹- د روڼتیا او حساب ورکونې په هکله

د صفوفو د تصفیه د کمیسیون د کار په پایله کې (۴۴۸۵)کسانو ایستل، په ټولو مرکزي او ساحوي قطعاتو کې د تفتیش د ارزونې ټیمونه فعال او د نیوکو(شکایاتو) د اوریدو لپاره (۱۹۶) وړیا شمیره فعاله شوې ده.

## ۱۰- د محاکمو په هکله

په ډیرو ولایتونو کې د (۵۳۶۷) تنو مجاهدینو دوسیې او (۱۱۴۲) د اختطاف دوسیو ارزونه شوې ده.

## ۱۱- ملکي وګړو ته د مرستې په هکله

په ولایتونو کې د وروستیو زلزلې او سیلاب ځپلو سره مرستې او همدا رنګه د هوا او ځمکې له لارې روغتونونو ته په وخت کې د زخمیانو انتقالول، د کرنې او مالدارۍ محترم وزارت( ۱۳۴۰۹) ټُنو غنمو د (۹۵۱) نظامي لاریو کې اړوندو ولایتونو ته استول، د کابل – ننګرهار په لویه لاره کې د سروبي د تنګي سیمې بیا خلاصول، د نورستان ولایت د سیلاب ځپلې سیمو د ویجاړو او بندو لارو خلاصول او جوړول، د

ګردیز – سید کرم لاړې سړک خلاصول، د کنړ ولایت غازي آباد او ناړې سړک جوړول، د لوګر ولایت د آنتن د تپه سړک د چاودیدونکو توکو څخه پاکول.

## ۱۲- د عقیدتي او کلتوري په هکله

دملي دفاع وزارت اړوند قطعاتو او جروتامونو کې د عمومي عفوې ته د احترام کولو او د ستونځو نه جوړولو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی (۸۰۰۰ ) پاڼو توصیو بروشورونو طرح، تدوین او خپرول، د( ۸ ) میلیونو افغانیو په ارزښت د کتابونو او د( ۱ ) میلیون افغانیو په ارزښت د بیرغ پیرل او ټولو جزوتامونو او قطعاتو ته یې ویشل.

## ۱۳- د صحي چارو په هکله

د کرونا ویروس پر وړاندې د مبارزې د کمیټې بیا فعالیدل، د پکتیکا ولایت زلزله ځپلو سره (۲۶) قلمه د طبي ملزمې او وسایل مساعدت، دعامې روغتیا محترم وزارت د جمهوریت او انتاني روغتونونو ، د وینې مرکزي بانک او د کتلوې معافیت محترم ریاست سره ۶۲ قلمه درملو،۴۸ قلمه طبي توکو،۲ قلمه لابراتواري ټستونو، د ټیتانوس( ۱۸۷۰۰) او دیفتري ( ۲۳۴۰۰۰ ) دوزه واکسینونو مرسته کول.

## ۱۴- د بېستیزو کړنو په هکله

د ملي دفاع وزارت قرارګاه، په لغمان کې د۲۰۱ خالد بن ولید قول اردو، د مرکزي ترمیم خونې، د پلچرخي لمړي لمبر بیز، بریښنا د ښاري بریښنا شبکې سره نښلول او ترې ګټه اخیستل، د ۳۱۳ مرکزي قول اردو، د ۲۰۳ منصوري قول اردو، د ۲۰۷ الفاروق قول اردو او د بګرام فرقې بریښنا د ښاري شبکې سره د نښلولو تداركاتي دوسیو جوړیدل او ټاکل شوې کمیټې ته یې سپارل.

دا وو د ملي دفاع وزارت د ۱۴۴۳هـ ق کال د مهمو کړنو او لاسته راوړنو ګزارش چې ستاسو قدرمن حضور ته وړاندې شو.

**و من الله توفیق**

**د یو سوکاله او پرمخ تللي افغانستان په هیله**

د افغانستان اسلامي امارت

د ملي دفاع وزارت

د ستراتيژيکو اړيکو او عامه چارو رياست

# د ملي دفاع وزارت د ۱۴۴۳هـ.ق کال کړنې او لاسته راوړنې

کابل ــ افغانستان

ذوالحجه ۱۴۴۳ هـ.ق